# د تحرکاتو بنسټیزه ارزونه

ننګرهار
د پایلي لنډیز
اوم پړاو . اکتوبر - ډسمبر ۲۰۱۸



د زدکړې آسانتیاوو تـه محدودیـت ډېرى داخلي بېځایه شـوي او راسـتنېدونکي ماشـومان پـه ننګرهـار ولایت کـې دې ته اړ کـړي چې د دې هلکانـو او انجونـو پـه شـان پـه آزاده فضـا کـې ژونـد وکړي چې دوی د ښـوونځی د ودانـۍ نه درلودلـو سربېره تعلیمي مـوادو ته هم په بشـپړه توګه لاسرسـی نلـري. © IOM ۲۰۱۸

## د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیسټم (DTM)

د بېځایـه کېدوونکـو د تعقیـب سیسـټم داسـې یو سیسـټم دی چـې د خلکـو د بېځایه کېدنې او تحـرک لـه بهیـر څخـه تعقیـب او څارنه کوي. دا سیسـټم په سیسـټماټیک ډول د معلوماتو راټولولـو، پراسـس کولـو او خپرولـو لپـاره جوړ شـوی ترڅو وکـولای شي د تحرکاتو او په سـیمه او یـا لاره کـې د بېځایـه شـویو خلکـو هغـه اړتیـاوو پـه هکلـه چې د بدلـون په حـال کې دي ښـه پوهـاوی منځ تـه راولي. د DTM په اړه د لا زیاتو معلوماتـو لپاره www.displacement.iom.int/afghanistan څخـه کتنه وکړئ.

پـه افغانسـتان کـې، DTM د تحـرک د ارزونې بنسـټیزه وسـیله کاروي ترڅـو د تحرکاتو څخه څارنـه، د جـبري بېځایـه شـویو کسـانو د نفـوس کچـه او موقعیـت تشـخیص، د بېځایـه کیـدو علـت، اصلـی سـیمې، د بېځایـه کېدو مهـال، لومـړني ډیموګرافیکـي معلومـات، زیانمنتیاوې او د اړتیـاوو د لومړیتوبونـو څخـه څارنـه وکـړي. معلومـات د کلیـو پـه کچه د ډله ایزو بحثونو، مخامـخ کتنـو او کلیـدي معلوماتـو ورکوونکـو سره د مرکـې لـه لارې راټولېږي.

DTM پروګـرام، د کډوالـۍ نړیـوال سـازمان او ملګـري سـازمانونو تـه دا پیاوړتیـا ورکـوي چـې سرچینـې پـه اعظمـي توګـه لـوړې کـړي او لومړیتوبونـه وټاکـي ترڅـو د شـواهدو پـر بنسـټ هدفمند، دوامداره او د حرکت پر وړاندې د پایدارو او حساسـو بشردوسـتانه مرسـتو پروګرامونه وړانـدې کـړي او د ټولنـې د بیـا یوځـای کېدنـې، ثبـات او پراختیـا څخـه ډاډ ترلاسـه شي.

## ۵ د موخې وړ جمعیتونه

DTM د تحرکاتـو بنسـټیزې ارزونې له لارې د لاندې ۵ اسـاسي جمعیتونـو کټګوریو موقعیت، نفـوس او څو سـکټوریزې اړتیاوې څاري:

۱. بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

هغه افغانان چې لږ تر لږه د ۶ میاشتو لپاره د هیواد څخه بهر اوسېدلي وي او اوس راستانه شوي وي

۲. بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

هغه افغانان چې بهرنیو هېوادونو ته تللي او یا کډه یې کړې وي

داخلي بېځایه شوي په لاندې درېو کټګوریو وېشل شوي دي:

۳. داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې

د ارزول شـویو کلیـو څخـه هغـه افغانـان چـې د داخـلي بېځایه شـویو په توګه یې خپلې سـیمې پرېښـې ترڅـو د افغانسـتان دننـه پـه یوې بلې سـیمې کـې ژوند وکړي

۴. رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان

د نورو سیمو څخه داخلي بېځایه شوي کسان چې اوسمهال په یوه ارزول شوي کلي کې ژوند کوي

۵. راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان

هغـه افغانـان چـې د ارزول شـویو کلیـو څخـه پخوا د داخـلي بېځایه شـویو په توګه تلـلي ول او اوسـمهال خپلـو کورونو ته بېرته سـتانه شـوي دي

۵ د موخـې وړ جمعیتونـو لپـاره د نفـوس د کچې معلومـات د هغـوی د بېځایـه کېدنـې پـر مهـال د دې زمـاني جوړښـت پـر بنسـټ راټولېـږي: ۲۰۱۲-۲۰۱۵ . ۲۰۱۶ . ۲۰۱۷ . ۲۰۱۸

## لنډه کتنه

**۲۲** ولسوالۍ وارزول شوې
**۹۰۸** کلي وارزول شول

**۴،۱۶۷**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۴۹۵،۸۳۳**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۳۰۲،۷۳۰**
داخلي بېځایه شوي کسان په کوربه ټولنو کې ژوند کوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۳۲۱،۰۳۴**
پخواني داخلي بېځایه شوي کسان اوس خپلو سیمو ته بېرته ستانه شوي[۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۳۰،۹۴۶**
کسان د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱۶،۳۲۰**
کسان اروپایي هېوادونو ته کډوال شوي (د ټولټال کډوالو له ډلې ۵۳٪)

**۱۵،۳۸۶**
راستنیدونکي او داخلي بېځایه شوي په خېمو او یا آزاده فضا کې ژوند کوي

**۱#**
ننګرهار ولایت د هېواد په کچه د راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو تر ټولو لوړ شمېر څخه کوربه توب کوي

**۳ څخه ۱**
کس په ننګرهار ولایت کې یا داخلي بېځایه شوی دی او یا هم راستنېدونکی

**۴ څخه ۱**
د ننګرهار ولایت ۲۵٪ راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي په بهسود ولسوالۍ کې شتون لري

**۴ څخه ۱**
د ننګرهار ولایت له ټولو راستانه شویو داخلي بېځایه شویو څخه ۲۸٪ وګړي کوټ ولسوالۍ ته ستانه شوي (۲۰۱۲-۲۰۱۸)

**۹۹٪**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي له پاکستان څخه ستانه شوي

**۲ څخه ۱**
راستنېدونکی چې له ایران او پاکستان څخه راغلی (۵۴٪) اسناد نلرونکی راستنېدونکی وه (په کوربه هېوادونو کې هغه کډوال چې ثبت شوي نه دي)

## په ټولو ۵ د موخې وړ جمعيتونو کې بېځايه شوي کسان | د ولسواليو په کچه لنډه کتنه

| ولسوالی | * مجموعي نفوس | ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځايه شوي) | د نفوس سلنه | له بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي | د نفوس سلنه | داخلي بېځايه شوي چې خپلي اصلي سيمې يې پرېښې | د نفوس سلنه | رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان | د نفوس سلنه | راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان | د نفوس سلنه | بهرنيو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | د نفوس سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| جلال آباد | ۲۵۵,۰۱۲ | ۷۲,۴۰۰ | ٪۲۲ | ۴۶,۵۰۷ | ٪۱۴ | ۰ | ٪۰ | ۲۵,۸۹۳ | ٪۸ | ۲۸ | ٪۰ | ۵,۱۱۳ | ٪۲ |
| بهسود | ۱۲۴,۰۸۱ | ۲۰۰,۵۰۳ | ٪۶۲ | ۱۲۲,۵۵۱ | ٪۳۸ | ۱,۹۳۲ | ٪۲ | ۷۷,۹۵۲ | ٪۲۴ | ۹۱۰ | ٪۱ | ۲,۲۵۶ | ٪۲ |
| سرخرود | ۱۳۱,۵۲۲ | ۸۲,۲۴۱ | ٪۳۸ | ۴۵,۸۵۵ | ٪۲۱ | ۹۳۱ | ٪۱ | ۳۶,۳۸۶ | ٪۱۷ | ۰ | ٪۰ | ۲,۱۵۷ | ٪۲ |
| خوګياڼی | ۱۴۲,۶۲۵ | ۳۴,۵۴۱ | ٪۱۹ | ۳۱,۳۹۱ | ٪۱۸ | ۳۶,۷۹۴ | ٪۲۶ | ۳,۱۵۰ | ٪۲ | ۴۴,۱۰۹ | ٪۳۱ | ۹۷۸ | ٪۱ |
| چپرهار | ۶۵,۸۲۶ | ۷۵,۲۲۳ | ٪۵۳ | ۵۰,۵۸۵ | ٪۳۶ | ۳۳,۹۹۸ | ٪۵۲ | ۲۴,۶۳۸ | ٪۱۷ | ۴۵,۲۰۶ | ٪۶۹ | ۲,۰۰۲ | ٪۳ |
| رودات | ۷۵,۴۴۸ | ۴۳,۹۳۳ | ٪۳۷ | ۳۰,۶۹۶ | ٪۲۶ | ۴,۶۳۴ | ٪۶ | ۱۳,۲۳۷ | ٪۱۱ | ۲,۷۸۹ | ٪۴ | ۱,۶۹۱ | ٪۲ |
| کامه | ۸۳,۹۱۸ | ۴۲,۸۴۲ | ٪۳۴ | ۲۷,۳۶۹ | ٪۲۲ | ۱,۱۶۲ | ٪۱ | ۱۵,۴۷۳ | ٪۱۲ | ۶۶۴ | ٪۱ | ۱,۲۱۸ | ٪۱ |
| کوزکنړ | ۶۰,۰۵۱ | ۲۵,۸۹۰ | ٪۳۰ | ۱۷,۱۷۹ | ٪۲۰ | ۴۶۲ | ٪۱ | ۸,۷۱۱ | ٪۱۰ | ۴۹ | ٪۰ | ۱,۵۰۵ | ٪۳ |
| دره نور | ۴۴,۰۱۲ | ۱۲,۴۰۴ | ٪۲۲ | ۱۰,۳۱۱ | ٪۱۸ | ۱۹۶ | ٪۰ | ۲,۰۹۳ | ٪۴ | ۰ | ٪۰ | ۹۸۴ | ٪۲ |
| حصارک | ۳۳,۶۱۹ | ۱۲,۶۹۵ | ٪۲۷ | ۱۰,۰۹۴ | ٪۲۲ | ۱۳,۷۵۲ | ٪۴۱ | ۲,۶۰۱ | ٪۶ | ۲,۸۷۰ | ٪۹ | ۱,۱۷۹ | ٪۴ |
| شېرزاد | ۷۲,۳۶۹ | ۹,۵۳۵ | ٪۱۲ | ۷,۲۱۱ | ٪۹ | ۱۳,۲۷۹ | ٪۱۸ | ۲,۳۲۴ | ٪۳ | ۵,۷۱۹ | ٪۸ | ۲,۳۹۷ | ٪۳ |
| پچير واګام | ۴۶,۴۴۹ | ۷,۳۱۳ | ٪۱۴ | ۳,۲۵۳ | ٪۶ | ۱۶,۹۸۲ | ٪۳۷ | ۴,۰۶۰ | ٪۸ | ۵۴,۲۴۳ | ٪۱۱۷ | ۸۱۹ | ٪۲ |
| ده بالا | ۴۴,۰۱۲ | ۵,۰۷۸ | ٪۱۰ | ۸۱۵ | ٪۲ | ۳۳,۶۱۴ | ٪۷۶ | ۴,۲۶۳ | ٪۹ | ۱,۳۲۳ | ٪۳ | ۴۵۸ | ٪۱ |
| کوت | ۵۶,۸۴۳ | ۲۱,۴۹۰ | ٪۲۷ | ۱۱,۴۴۵ | ٪۱۵ | ۲۴,۴۴۴ | ٪۴۳ | ۱۰,۰۴۵ | ٪۱۳ | ۹۰,۵۳۱ | ٪۱۵۹ | ۵۵۶ | ٪۱ |
| بټي کوټ | ۸۲,۶۳۴ | ۱۶,۷۸۳ | ٪۱۷ | ۱۴,۳۷۵ | ٪۱۴ | ۹,۱۷۰ | ٪۱۱ | ۲,۴۰۸ | ٪۲ | ۸,۲۹۵ | ٪۱۰ | ۱,۵۱۰ | ٪۲ |
| ګوشته | ۲۹,۷۶۹ | ۱۰,۸۶۹ | ٪۲۷ | ۸,۸۶۷ | ٪۲۲ | ۲,۱۴۹ | ٪۷ | ۲,۰۰۲ | ٪۵ | ۱,۴۱۴ | ٪۵ | ۵۲۹ | ٪۲ |
| اچين | ۱۰۹,۴۵۲ | ۸,۵۹۴ | ٪۷ | ۵,۷۶۶ | ٪۵ | ۱۵,۶۳۲ | ٪۱۴ | ۲,۸۲۸ | ٪۲ | ۳۰,۷۴۷ | ٪۲۸ | ۶۳۱ | ٪۱ |
| شينوار | ۶۵,۴۴۱ | ۵۱,۷۱۴ | ٪۴۴ | ۱۶,۵۸۵ | ٪۱۴ | ۱۰,۳۶۳ | ٪۱۶ | ۳۵,۱۲۹ | ٪۳۰ | ۲,۲۴۷ | ٪۳ | ۸۸۲ | ٪۱ |
| مهمند دره | ۴۹,۰۱۶ | ۲۲,۹۶۴ | ٪۳۲ | ۱۲,۲۳۹ | ٪۱۷ | ۴,۴۴۵ | ٪۹ | ۱۰,۷۲۵ | ٪۱۵ | ۲,۴۹۲ | ٪۵ | ۵۷۶ | ٪۱ |
| لعل پور | ۲۲,۳۲۷ | ۱۴,۸۴۱ | ٪۴۰ | ۴,۷۰۹ | ٪۱۳ | ۵,۲۳۶ | ٪۲۳ | ۱۰,۱۳۲ | ٪۲۷ | ۲,۶۱۱ | ٪۱۲ | ۲۰۲ | ٪۱ |
| نازيان | ۱۶,۰۴۰ | ۱۳,۹۲۲ | ٪۴۶ | ۸,۲۵۹ | ٪۲۸ | ۸,۰۱۵ | ٪۵۰ | ۵,۶۶۳ | ٪۱۹ | ۱,۹۶۷ | ٪۱۲ | ۲,۵۶۳ | ٪۱۶ |
| دربابا | ۲۵,۴۰۶ | ۱۲,۷۸۸ | ٪۳۳ | ۹,۷۷۱ | ٪۲۶ | ۲۴,۲۶۴ | ٪۹۶ | ۳,۰۱۷ | ٪۸ | ۲۲,۸۲۰ | ٪۹۰ | ۷۴۰ | ٪۳ |
| مجموعه | ۱,۶۳۵,۸۷۲ | ۷۹۸,۵۶۳ | ٪۳۳ | ۴۹۵,۸۳۳ | ٪۲۰ | ۲۶۱,۴۵۴ | ٪۱۶ | ۳۰۲,۷۳۰ | ٪۱۲ | ۳۲۱,۰۳۴ | ٪۲۰ | ۳۰,۹۴۶ | ٪۲ |

** د نفوسو معلوماتي سرچينه: د ۱۳۹۷ (۲۰۱۸ – ۲۰۱۹) کال په اړه د احصائيې او معلوماتو ملي اداري *(NSIA)* اټکل    سيمبولوجي: د موخې وړ جمعيت ≤ ۲۰۰,۰۰۰    د نفوس سلنه ≤ ۲۵٪



په روغتيايي مرکزونو او کارکوونکو بريدونه ترسره کېږي او پايله يې په ټولنو کې د روغتيايي اساسي خدمتونو له منځه تلل دي لکه د ننګرهار ولايت په اچين ولسوالۍ کې چې دا کلينيک د بلواګرو له لوري د زندان په توګه کارول کېده او وروسته بيا پکې چاودنه شوې. © IOM ۲۰۱۸

## تګلاره

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې اصلي موخه په افغانستان کې د تحرکاتو او بېځایه کېدنې تعقیب ده ترڅو وکولای شي د بېځایه کېدوونکو، راستنېدونکو، کډوالو، پناه غوښتونکو، مرزي قبیله وي ډلو، کوچیانو او نړیوالو کارګرانو د نفوس، موقعیت او جغرافیاوي تقسیماتو په هکله اټکلونه وکړي. سربېره پر دې DTM د تحرکاتو په اړه نور معلومات هم راټولوي چې په دې معلوماتو کې د بېځایه کېدنې او راستنېدو لاملونه، اصلي او د موخې سیمې، د بېځایه کېدنې او راستنېدو مهال، بیاځلي بېځایه کېدنه، د جمعیتونو شمېر، د زیانمنتیا کچه او اولیه اړتیاوې شاملېږي.

DTM په عمده ډول د یوې سیمې د ارزونې لپاره د هماغې سیمې وګړي د سیمه ایزو کارکوونکو په توګه په کار ګماري. دا کارکوونکي له کلیدي معلومات ورکوونکو سره د ډله ایزو بحثونو له لارې د کلیو په کچه کمیتي معلومات راټولوي. سیمه ایز کارکوونکي د مستقیمو کتنو له لارې هم د ژوند شرایط، لومړني خدمات، امنیت او ټولنیز-اقتصادي حالت په اړه کیفي معلومات راټولوي.

د امنیتي خطرونو له امله سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته سمارټ ټیلیفونونه یا ټابلیټونه انتقال کړي له همدې امله دوی هره ورځ د یوې کاغذي فورمې په وسیله معلومات راټولوي. په دې فورمه کې د تېر پړاو راټول شوي معلومات هم شتون لري ترڅو د موجود معلوماتو له شتون څخه تایید وشي او د ارزونې پروسه په ګړندیتوب سره پر مخ ولاړه شي. بشپړې شوې فورمې هره اونۍ د DTM ولایتي دفتر ته سپارل کېږي ترڅو د ټیم مشر او د معلوماتو راجستر کوونکي له لوري ترې کتنه او تصویب وشي. کله چې دا فورمې تایید شوې نو د موبایلونو په مرسته په الکترونکي توګه د کوبو فورمونو له کارولو سره په مستقیم ډول د DTM مرکزي SQL کې چې په کابل کې ده ځای پرځای کېږي. وروسته بیا دا ډېټا یا معلومات هم په اتومات او هم په انفرادي توګه هره ورځ تصفیه او تایید کېږي. دا دقیقه بیاکتنه ډاډ ترلاسه کوي چې د DTM ډېټا ترټولو لوړ کیفیت، دقت او صداقت ولري.

کله چې DTM د لومړني څل لپاره په یو ولایت کې ارزونه ترسره کوي نو ساحوي کارکوونکي معلومات یا ډېټا په دوه پړاونو کې چې دوه دوه برخې لري راټولوي:

۱. د ولسوالۍ په کچه ارزونه (B1): د دې ارزونې موخه د هغو کلیو پېژندنه ده چې ترټولو زیات افغان وګړي ورته تللي او یا ترې وتلي وي او د موخې وړ جمعیتونو شمېر په هکله اټکل کوي.

۲. د کلیو په کچه ارزونه (B2): دا ارزونه د B1 ارزونې د پایلو پر بنسټ د راغلیو او تللیو افغان وګړو په اړه د موخې وړ جمعیتونو لپاره په هغو کلیو کې معلومات راټولوي چې د B1 په ارزونه کې پېژندل شوي ول. د کلیدي معلومات ورکوونکو د راجع کولو وروسته نوي کلي هم تشخیص او ارزول کېږي.

څکه چې DTM ټول ۳۴ ولایتونه ارزولي دي په راتلونکي کې به یوازې د کلیو په کچه ارزونې ترسره شي. DTM په پام کې لري چې په کال کې به دوه ځلې د هېواد په کچه د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې ترسره کړي چې دا کار د بودجې د دوام پورې اړوند دی.


## کلیدي معلومات ورکوونکي

د DTM ساحوي کارکوونکي د کلیو په کچه معلومات له کلیدي معلومات ورکوونکو څخه د ډله ایزو بحثونو له لارې راټولوي. ساحوي کارکوونکي د ټولنې د ارزونې پر مهال د ژوندانه شرایط او د څو سکټوریزو خدمتونو شتون هم ارزوي. په لږو مواردو کې داسې کېږي چې د امنیتي اندېښنو او یا د دولت د مخالفینو ډلو د بریدونو له امله، د DTM سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته ولاړ شي نو هغوی غونډې او ډله ایز بحثونه د کلیو څخه بهر یا په خوندیو سیمو کې ترسره کوي او یا هم ارزونې د موبایل له لارې مخکې وړي.


DTM پروګرام په فعاله توګه وکولای شو د ښځینه کارکوونکو له ګمارلو سره په ډله ایزو بحثونو کې د جندر د شمولیت د لا ښه کولو لپاره لوی ګام واخلي، که څه هم دا یو ننګونکی کار وه. سره له دې اوس هم پرمختګ ته اړتیا شته. که څه هم په ننګرهار ولایت کې د کلیدي معلوماتو ورکوونکو له ډلې څخه یوازې ۰،۳٪ یې ښځې دي.

- **۴،۱۶۷** کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه
- **۶۵۰** کلیدي معلومات ورکوونکي یا راستنیدونکي دي او یا هم داخلي بېځایه شوي (۱۶٪)
- **۱۲** ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۰،۳٪)
- **۱،۱۶۰** له کوربه ټولنو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۲۸٪)
- **۴،۱۵۵** نارینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۹۹،۷٪)
- **۵۷۸** خوسکټوریزو او ټولنیزو خدماتو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۱۴٪)
- **۴،۹** په هره ډله ایزې مرکې کې د کلیدي معلومات ورکوونکو اوسط شمېر
- **۱،۴۳۹** له سیمه ایزو چارواکو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۳۴٪)

د ډول پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | ننګرهار




د ډول او جنسیت پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | ننګرهار



# بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

راستنېدونکي هغه افغانان دي چې په بهرنیو هېوادونو کې لږتر لږه د شپږو میاشتو تېرولو وروسته بېرته افغانستان ته ستانه شوي او په ارزول شویو سیمو کې ځای پر ځای شوي وي. راستنېدونکي دوه ډوله دي: اسناد لرونکي راستنېدونکي (هغه کډوال چې په کوربه هېوادونو کې راجستر شوي وي او وروسته بیا UNHCR او اړوند حکومتي چارواکو ته یې د رضاکارانه راستنېدلو غوښتنه کړې وي) او اسناد نلرونکي راستنېدونکي (هغه افغانان چې په خپله خوښه راستانه شوي او یا شړل شوي دي، پرته له دې چې دا په پام کې ولرو چې له UNHCR او اړوند حکومتي چارواکو سره ثبت ول او که نه).

بهرنیو هېوادونو څخه ننګرهار ولایت ته د راستنېدونکو شمېر د ۲۰۱۲-۲۰۱۵ دورې په پرتله په ۲۰۱۶ کال کې له دوه برابرو زیات شوی خو په ۲۰۱۷ کال کې د ۲۰۱۶ کال په پرتله ٪۷۱ کموالی لري. په ۲۰۱۸ کال کې د ۲۰۱۷ کال په پرتله ٪۸۰ کموالی ښیي.

**۴۹۵،۸۳۳**
بهرنیو هېوادو څخه راستنېدونکي


**۴۸۹،۸۰۷**
پاکستان څخه راستنېدونکي (۹۸،۷٪)


**۲۶۴،۹۶۹**
له ایران + پاکستان څخه اسناد نلرونکي راستنېدونکي (۵۴٪)


**۷۱۸**
ایران څخه راستنېدونکي (۰،۱۴٪)


**۲۲۵،۵۵۶**
له ایران + پاکستان څخه اسناد لرونکي راستنېدونکي (۴۶٪)


**۵،۳۰۸**
غیر ګاونډیو هېوادونو څخه راستنېدونکي (۱،۰۷٪)




# رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان

دا کسان هغه افغانان دي چې د نا امنۍ یا وسله والو جګړو، تاوتریخوالی، د بشري حقونو سرغړونې، د خوندیتوب اندېښنې او د طبیعي پېښو یا د انسان په لاس جوړې شویو پېښو څخه د خوندیتوب په موخه خپلو سیمو څخه بېځایه شوي دي او ارزول شوي/ کورنه تولنو ته تللي او هلته ژوند کوي.

**۳۰۲,۷۳۰**
په کوربه ټولنو کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان


**۱۰۰٪**
د کړکېچ له امله بېځایه شوي


**۷۷,۵۹۲**
بهسود ولسوالۍ کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان – د ولایت په کچه تر ټولو لوړ شمېر


**۰٪**
د طبیعي پېښو له امله بېځایه شوي


**۹۸۰**
داخلي بېځایه شوي په غیر رسمي سیمو کې مېشت دي (۰,۳٪)


**۸۳٪**
په خپل اصلي ولایت کې بېځایه شوي







# ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي)

پـه عمومـي توګـه ننګرهـار ولایـت لـه ټولټـال ۷۹۸،۵۶۳ راسـتنېدونکو او داخـلي بېځایـه شـویو څخـه کوربـه تـوب کـوي چـې ۶۲٪ (۴۹۵،۸۳۳ کسـان) راسـتنېدونکي او ۳۸٪ (۳۰۲,۷۳۰ کسـان) داخـلي بېځایـه شـوي دي. پـه لانديې جـدول کې د ننګرهـار ولایت ۲۰ کلي ښـودل شـوي چـې ترټولـو زیاتـو بېځایـه شـویو او راسـتنېدونکو راتـګ څخـه اغیزمن شـوي. دا ۲۰ کلي (د ننګرهـار ولایـت ۹۰۸ ارزول شـویو کلیـو څخـه ۲٪) د ټـول ولایـت ۲۷٪ راسـتنېدونکو او داخـلي بېځایـه شـویو څخـه کوربـه تـوب کـوي. دا کلي د ټولنـو بې ثباتـۍ پـر وړانـدې چـې د راسـتنېدونکو او داخـلي بېځایـه شـویو لـوړ شـمېر راتـګ سره رامنـځ تـه شـوې حسـاس او زیانمـن دي او دا کار لـه پخـوا نـه محـدودې شـوې سرچینـې او کاري فرصتونـو لا نـور هـم محـدود کـوي. لـه دې ۲۰ زیانمنـو کلیـو څخـه ۱۱ کلي يـې پـه بهسـود ولسـوالۍ کـې موقعیت لـري او د دې جـدول ۴۵٪ (۹۷,۰۵۰) راسـتنېدونکو او داخـلي بېځایـه شـویو څخـه کوربـه تـوب کـوي.


## ۲۰ لومړني کلي چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلی بېځایه شوي لري

| رده بندی | کلي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|---|
| ۱ | خالص فامیلی | جلال آباد | ۲۷,۷۴۵ |
| ۲ | چمتال | خوګیانۍ | ۲۳,۷۰۹ |
| ۳ | دولت آباد | چپرهار | ۱۹,۰۱۸ |
| ۴ | اده | بهسود | ۱۸,۳۸۱ |
| ۵ | جوی دهی شرقی | بهسود | ۱۴,۱۷۳ |
| ۶ | شیخ مصری | سرخرود | ۱۲,۲۱۴ |
| ۷ | ترخو اوبه | بهسود | ۱۱,۳۱۲ |
| ۸ | دامان | بهسود | ۱۰,۸۵۴ |
| ۹ | کنر صافیان | چپرهار | ۹,۳۲۵ |
| ۱۰ | جوی یزده | بهسود | ۹,۱۶۰ |
| ۱۱ | چمتال | سرخرود | ۷,۵۴۶ |
| ۱۲ | انګ ور باغ | جلال آباد | ۷,۳۴۳ |
| ۱۳ | کاریز کبیر | بهسود | ۶,۰۴۳ |
| ۱۴ | سراچه عربیا | بهسود | ۵,۶۹۴ |
| ۱۵ | بینی ګاه | بهسود | ۵,۵۶۶ |
| ۱۶ | جالوزه | چپرهار | ۵,۵۵۴ |
| ۱۷ | ګل آباد | بهسود | ۵,۳۸۰ |
| ۱۸ | ولایتي | بهسود | ۵,۳۵۴ |
| ۱۹ | سراچه | بهسود | ۵,۱۳۳ |
| ۲۰ | لنډی | نازیان | ۵,۰۵۹ |
| | | مجموعه | ۲۱۴,۵۶۳ |





## ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ لنډیز

| ولسوالۍ | راستنېدونکي | رارسېدلي داخلي بېځایه شوي | ټولټال راغلي کسان |
|---|---|---|---|
| بهسود | ۱۲۲,۵۵۱ | ۷۷,۹۵۲ | ۲۰۰,۵۰۳ |
| سرخرود | ۴۵,۸۵۵ | ۳۶,۳۸۶ | ۸۲,۲۴۱ |
| چپرهار | ۵۰,۵۸۵ | ۲۴,۶۳۸ | ۷۵,۲۲۳ |
| جلال آباد | ۴۶,۵۰۷ | ۲۵,۸۹۳ | ۷۲,۴۰۰ |
| شینوار | ۱۶,۵۸۵ | ۳۵,۱۲۹ | ۵۱,۷۱۴ |
| رودات | ۳۰,۶۹۶ | ۱۳,۲۳۷ | ۴۳,۹۳۳ |
| کامه | ۲۷,۳۶۹ | ۱۵,۴۷۳ | ۴۲,۸۴۲ |
| خوګیانۍ | ۳۱,۳۹۱ | ۳,۱۵۰ | ۳۴,۵۴۱ |
| کوزکنړ | ۱۷,۱۷۹ | ۸,۷۱۱ | ۲۵,۸۹۰ |
| مهمند دره | ۱۲,۲۳۹ | ۱۰,۷۲۵ | ۲۲,۹۶۴ |
| کوټ | ۱۱,۴۴۵ | ۱۰,۰۴۵ | ۲۱,۴۹۰ |
| بټی کوټ | ۱۴,۳۷۵ | ۲,۴۰۸ | ۱۶,۷۸۳ |
| لعل پور | ۴,۷۰۹ | ۱۰,۱۳۲ | ۱۴,۸۴۱ |
| نازیان | ۸,۲۵۹ | ۵,۶۶۳ | ۱۳,۹۲۲ |
| دربابا | ۹,۷۷۱ | ۳,۰۱۷ | ۱۲,۷۸۸ |
| حصارک | ۱۰,۰۹۴ | ۲,۶۰۱ | ۱۲,۶۹۵ |
| دره نور | ۱۰,۳۱۱ | ۲,۰۹۳ | ۱۲,۴۰۴ |
| ګوشته | ۸,۸۶۷ | ۲,۰۰۲ | ۱۰,۸۶۹ |
| شیرزاد | ۷,۲۱۱ | ۲,۳۲۴ | ۹,۵۳۵ |
| اچین | ۵,۷۶۶ | ۲,۸۲۸ | ۸,۵۹۴ |
| پچیر واګام | ۳,۲۵۳ | ۴,۰۶۰ | ۷,۳۱۳ |
| ده بالا | ۸۱۵ | ۴,۲۶۳ | ۵,۰۷۸ |
| عمومي مجموعه | ۴۹۵,۸۳۳ | ۳۰۲,۷۳۰ | ۷۹۸,۵۶۳ |



د ولسوالۍ پر بنسټ ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځايه شوي)



د راستنېدونکو د موخې ور ولسوالۍ ګانې

# داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې

دا هغه افغانان دي چې لـه یـوې ارزول شـوې سـیمې څخـه چې هلته یې پخوا ژونـد کاوه د افغانسـتان دننـه یـوې بلـې سـیمې ته تلـلي دي تر څو د وسـله والـو جګـړو، تاوتریخوالي، د بـشري حقونـو سرغړونـې، د خونديتوب اندیښنـې او طبيعي پېښـو یا د انسان پـه لاس جوړو شـویو پېښـو څخه خوندي ووسي.


**۲۶۱،۴۵۴**
داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې

**۹۵٪**
په عین ولایت کې نورو سیمو ته تللي دي


**۹۹،۸٪**
د کړکیچ له امله بېځایه شوي


**۰،۲٪**
د طبیعي پېښو له امله بېځایه شوي

داخلي بېځایه شوي کسان چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې | کلنی بهیر | ننګرهار




د ولسوالۍ پر بنسټ داخلي بېځایه شوي کسان چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې | ننګرهار




د هغو داخلي بېځایه شویو اصلي ولسوالۍ ګانې چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې

# راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان


راستانه شـوي داخلي بېځايـه شـوي هغـه افغانـان دي چـې خپلو سـيمو تـه چې ارزول شـوي سـيمې دي او پخوا يې پرېښـې وې بېرته سـتانه شـوي دي. دوی پخوا له دې سـيمو څخه تللي ول ترڅـو د وسـله والـو جګړو، تاوتريخـوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خونديتوب انديښـنې او طبيعـي پيښـو يـا د انسـان په لاس جوړ شـويو پيښـو لـه اغېزو څخه خونـدي ووسي.


**۳۲۱،۰۳۴**
راستانه شوي داخلي بېځايه شوي


**۹۸٪**
وګړي د ولايت دننه نورو سيمو څخه راستانه شوي

**۴ څخه ۳**
پخواني داخلي بېځايه شوي کسان يوازې ۴ ولسواليو ته راستانه شوي: کوټ، پچير واګام، چپرهار او خوګياني (۷۳٪)

**۴ څخه ۱**
د ټولو راستانه شويو داخلي بېځايه شويو له ډلې ۲۸٪ کسان کوټ ولسوالۍ ته راستانه شوي



د راستانه شويو داخلي بېځايه شويو د راستنېدو ولسوالۍ ګانې

# بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان


دا هغه افغانان دي چې لـه یوې ارزول شـوې سـیمې څخه د هـر دلیل، عامل او یا مـودې لپاره له هېـواد څخـه بهـر تلـلي او یـا کډوال شـوي دي. په دې کټګورۍ کې پناه غوښـتونکي، بېځایه شـوي کډوال او هغه کسـان شـاملېږي چې افغانسـتان یې د اقتصادي سـتونزو له امله پرېښـی وي.


**۳۰،۹۴۶**
د هېواد څخه بهر تللي دي


**۱۶،۳۲۰**
اروپايي هېوادونو ته تللي دي (۵۳٪)


**۱،۷۰۲**
ایران ته تللي دي (۶٪)


**۱۱،۲۰۲**
پاکستان ته تللي دي (۳۶٪)




# سکټوریزې اړتیاوې

## ۵ لومړیتوب لرونکې ولسوالۍ

مرستو او لومړنیو خدمتونو لپاره د شواهدو پر بنسټ لومړیتوب ورکول اړین دي. DTM د ولایت، ولسوالۍ او کلیو په کچه، د څو شاخصه سکټورونو پر بنسټ همکارو سازمانونو ته د لومړیتوب لرونکو سیمو یا د هغو سیمو لسټ چمتو کوي چې ترټولو زیات مرستو ته اړتیا لري.

(یاددښت: د هغو کسانو شمیر چې لاندې یې راپور ورکړ شوی د ټولټال راغلیو کسانو (داخلي بېځایه شوي+ راستنېدونکي) پر بنسټ دی).

**پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي لري** (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | بهسود | ۲۰۰,۵۰۳ |
| ۲ | سرخرود | ۸۲,۲۴۱ |
| ۳ | چپرهار | ۷۵,۲۲۳ |
| ۴ | جلال آباد | ۷۲,۴۰۰ |
| ۵ | شینوار | ۵۱,۷۱۴ |
| | عمومي مجموعه | ۴۸۲,۰۸۱ |

**پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې پناه ځای ته اړتیا لري** (راستنېدونکي+داخلي بېځایه شوي چې په خیمو او آزاده فضا کې ژوند کوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | چپرهار | ۵,۴۱۴ |
| ۲ | سرخرود | ۳,۶۹۳ |
| ۳ | بهسود | ۱,۸۴۶ |
| ۴ | مهمند دره | ۱,۶۸۷ |
| ۵ | خوګیاڼی | ۱,۱۰۱ |
| | عمومي مجموعه | ۱۳,۷۴۰ |

**پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې د څښاک اوبو ته اړتیا لري** (د څښاک اوبه > ۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | نازیان | ۲,۷۲۳ |
| ۲ | پچیر واګام | ۱,۴۰۰ |
| ۳ | اچین | ۳۱۳ |
| ۴ | دربابا | ۲۹۴ |
| ۵ | شینوار | ۲۵۹ |
| | عمومي مجموعه | ۴,۹۸۹ |

**پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې روغتیایي ځانګو ته اړتیا لري** (تر ټولو نیږدې کلینیک >۵ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | جلال آباد | ۲۸,۲۴۲ |
| ۲ | چپرهار | ۱۹,۸۰۴ |
| ۳ | بهسود | ۱۷,۱۹۳ |
| ۴ | شینوار | ۱۲,۶۳۴ |
| ۵ | رودات | ۱۱,۴۱۷ |
| | عمومي مجموعه | ۸۹,۲۹۰ |


**پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې ښوونځي ته اړتیا لري** (تر ټولو نیږدې ښوونځی >۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | شینوار | ۹,۴۸۱ |
| ۲ | کامه | ۳,۳۹۰ |
| ۳ | کوټ | ۲,۷۳۷ |
| ۴ | سرخرود | ۲,۳۱۸ |
| ۵ | دربابا | ۱,۸۸۲ |
| | عمومي مجموعه | ۱۹,۸۰۸ |

**پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې بازار ته اړتیا لري** (تر ټولو نیږدې بازار > ۱۰ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | دربابا | ۱۱,۹۶۸ |
| ۲ | کوټ | ۸,۵۴۳ |
| ۳ | حصارک | ۶,۱۴۵ |
| ۴ | بټي کوټ | ۵,۷۴۹ |
| ۵ | کوزکنړ | ۴,۱۸۹ |
| | عمومي مجموعه | ۳۶,۵۹۴ |

ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) | پناه ځای | ننګرهار




## د یوه بېځایه شوي کیسه

### د اسلام الدین بدمرغه ژوند


د ننګرهار ولایت، د چارپرهار ولسوالۍ څخه اسلام الدین د خپل د ژوند کیسه په ستونزمنه توګه کوي. هغه وایي چې په څه ډول په یو ویجاړ کور کې چې کوټو ته یې په سمه توګه پناه ځای هم نه ویل کېږي او چت یې په خرابه توګه جوړ شوی ژوند کوي. اسلام الدین د خپل شاوخوا خلکو په هکله داسې وایي:

> "نور خلک هر څه لري، هغوی ځمکه، پیسې، دارایي او د ژوند کولو لپاره هر څه لري."

اسلام الدین دې ته خواشینی دی چې یو زلمی زوی نلري ترڅو پر هغه تکیه وکړي. هغه یوازې یو وړوکی زوی لري او ۵ لورګانې چې له هغوی څخه ملاتړ هم نشي کولای. اسلام الدین په ژړغوني غږ وایي چې هغوي ته په سمه توګه جامې هم نشي چمتو کولای.

څو کاله مخکې هغه له خپلې کورنۍ سره د یو ښه ژوند په لټون پاکستان ته ولاړ او هلته یې خپل کور ته نیږدې یو پټي کې د سبزیجاتو په کرلو بوخت شو تر څو د ژواندانه د مخکې وړلو لپاره پیسې لاس ته راوړي. خو په بدمرغۍ سره هغه د شناختي کارت یا سند نه درلودلو له امله د ځایي چارواکو له لوري زورول کېده. او وروسته یې پریکړه وکړه ترڅو د خپلې کورنې سره افغانستان ته راستانه شي. اسلام الدین تر اوسه په بېچارګۍ کې ژوند کوي او له غریبي څخه رنج وړي.

* د یادونې وړ ده چې په دې کیسې کې نومونه بدل شوي او د سیمې نوم نده یاد شوی ترڅو د هغوی پېژندګلوۍ خوندي ووسي.



زوړ اسلام الدین چې کوم زوی هم نلري ترڅو د هغه له کورنۍ څخه ملاتړ وکړي اوس کوښښ کوي چې په چپرهار ولسوالۍ کې تولنیز ژوند ولري. © IOM ۲۰۱۸

International Organization for Migration
Route des Morillons 17
P.O. box 17
Geneva 19 1211
Switzerland

د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)
کور #۲۷
سړک ۴
د انصاري څلورلاره
شهر نو
کابل، افغانستان

هغه معلومات چې په دې راپور کې کارول شوي د IOM-افغانستان سازمان او د DTM نړیوال ملاتړ ټیم په ګډې همکارۍ راټول شوي دي. هغه مسایل او توکي چې د کار په ترڅ کې کارول شوي په هېڅ بڼه د کوم هېواد قانوني حالت، ملکیت، سیمه او یا هم د هغه د چارواکو او یا مرزونو په هکله د کډوالۍ د نړیوال سازمان له هېڅ نظر یا باورونو پورې اړوند ندي.

د کډوالۍ نړیوال سازمان (© IOM ۲۰۱۸)

د لا زیاتو معلوماتو لپاره او د ډاونلوډ وړ نقشو، ډېټابېسونو، متحرکو نقشو او داشبورډونو ته د لاسرسي لپاره مهرباني وکړئ د DTM-افغانستان انټرنټي پاڼه وګورئ.

www.displacement.iom.int/afghanistan

**مونږ سره په اړیکه کې شئ**

د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د DTM ټیم سره په اړیکه کې شئ:

DTMAfghanistan@iom.int

facebook.com/iomafghanistan

twitter.com/iomafghanistan

instagram.com/iomafghanistan

په افغانستان کې د ډي ټي ام مالي ملاتړ کوونکي

Canada · MOFAT · Norwegian Ministry of Foreign Affairs · Italian Agency for Development Cooperation · Co-funded by the European Union · په همغږي سره